ظریف امین یار
د پوهنتون استاد او څیړونکئ
۲۰۱۳/۰۳/۰۹

# انسان د هر څه نه مخکی انسان دی!

انسان، انسانیت او اسلامیت

هو انسان د هر آیین او ملیت نه مخکی انسان دی. په عمومی توګه په نړی که چې څومره انسانان میښت دی، ټول د یوشانتی جوړښت او زغښت نه برخوردار دی. که افغان دی یا هندی، که امریکایی دی یا افریقایی، که شرقی دی یا غربی او که تور دی یا سپین د ورته بیولوژیکی جوړښت لرونکی دی. افغان هم زړه، سترګی، پوزه، غوږونه او خوله لری او امریکایی هم. همدغه راز په افغانستان که څومره قومونه چې اوسیږی ټول د هر څه نه مخکی انسانان دی. که پښتون یا تاجک او که هزاره یا ازبک... ټول د یوی خاوری نه جوړ شوی دی او هیڅوک د بل نه برتری او لوړوالئ نلری. نو بیا ستونزه څه ده دا خلک ولی د یو بل نه ناراضه او خوا بدی دی؟ زما په اند ستونزه په ننی نړی کی د انسانیت کمښت دی او هر کله چې انسانیت په افغانانو او د نړی نورو انسانانو کی پیدا او وځغول شو نو بیا به دا جګړی او شخړی پای ته رسیږی او نړی به د انسانی ژوند تیرولو لپاره تیاره شی.

انسان په عمومی توګه باندی دوه مسئولیته لری. لومړی انسانی مسئولیت او دویم اسلامی. د اسلام د سپڅیلی دین له نظره انسانان ټول یو برابر دی او د یوه پلار او مور یعنی آدم (ع) او بی بی حوا نه زیږیدلی دی. اسلامی فلسفه وایی چې ټول انسانان د یوی ختی نه پیدا شوی دی او یوازی هغه وګړی الله تعالی ته برتری لری چې د تقوا خاوندان وی او اسلام هر ډول تبعیض په سختو الفاظو باندی غندی لکه قرآن پاک که راغلی دی چې هغه څوک چې تبعیض کړی مثال یی داسی ده چې هغه خپل ځانته په جهنم کی خونه جوړوی. په دی اساس ښه انسان پښتون یا تاجک نه دی بلکه هغه دی چې د ښه انسانانو ځانګړتیاوی ولری، د تقوا څښتن وی او د لوړ او پیاوړی اسلامی کریکتر او ښنی خاوند وی. د مقاصد الشرعیه له نظره هر انسان بل انسان ته مکلیفیت او ځانګړی مسؤلیتونه لری لکه هغه ځانته، د خپل کورنی ته، ټولنی ته او نړی ته مسئوله دی او د هغه هر عمل په بشپړ ټولنیز سایکل باندی مستقیم او نا مستقیمی اغیزی لری.

انسان د عقل، ارادی او اختیار خاوند دی ځکه خو اسلام کی انسان ته د الله تعالی(ج) ځمکنی خلیفه وایل کیږی او د همدغه برهان په اساس انسان د معنوی او مادی اړخونو څخه خپل فردی او اجتماعی ودی ته مسئول ګڼل کیږی او باید د شته امکاناتو او سرچینو په کارولو سره خپل ځمکنی ژوند د اسلامی چوکات سره سمبال کړی چې هم خپله تری ګټه واخلی او هم ټولنی ته ګټور ثابت شی. کلکم راع و کلکم مسول عن رعیته( د بخاری حدیث) چې مانا یی لاندی ډول ده: هو! ایی انسانه، ته دی عقل، سترګو، غوږونو( ارادی او اختیار) خاوند یی؛ نو که غواړی او که نه مسئولیت هم ورته لری او په دغه اساس ستا نه به پښتنی کیږی. .. إن السمع و البصرو الفؤادکُلُ أولئک کان عنه مسئولاً... ۳۶ اسراء. ولی مسلمان بر علاوه د انسانی مسئولیتونو څخه، د هغه ځای نه چې الله تعالی سره یی هوکړه کړی ده، الله پاک ته هم د دغه هوکړی او عهد پر اساس مسئول دی ... وکان عهدالله مسئولاً ..۱۵ الاحزاب.

اوس چې مونږ انسانان په ځانګړی توګه مسلمانان چې دومره درونده مسئولیتونه په عهدی لرو او په ځانګړی توګه دغه ننی وضعیت او حالت مو چې په افغانستان او نورو اسلامی هیوادونو کی ایجاد کړی ده په جدی توګه د تشویش او خړپړتیا قابل دی. نن افغانان له ټولو دردونو او تجربو او زده کړو سره سره په دی باندی پوهیږی چې د انسانیت او اسلامیت خصوصیات په انس، محبت، رورولی، سوله، ټولنیز عدالت، مکلیفیت او مسئولیت اخستل، او غواخوری کی دی ولی له بده مرغه دغه صفات نن په افغان ولس کی نادره او لږ پیدا کیږی یا هم ټولنی کی پری توکی کیږی. مونږ افغانان درد ته مونس او تل خپلو دښمنانو ته مو دوست ویلی. هو ملګرو نن زمونږ د اخړپړتیا، تشویش، خوابدی، تیتیدیل، بی روحی، لریتوب، بیلیدل او تفرقه، ظلم او قتال چې تاسو ونی، یو اصلی عامل یی مونږ خپله یو! دا به ډیره بی انصافی وی که مونږ ټول مسئولیت په بهرنی عواملو او فاکتورونو باندی واچوو. البته د همسایګان او اقتصادی لاس وهنی چې کاملاً د افغانستان بربادی او بحرانی کولو کی اساسی رول لری نه هیریدونکی دی ولی زما په اند که افغانان په خپله وغواړی نو مونږ کولی شو چې اوسنی بحران ته پای ورکړو او انشالله د همسایګانو سیاسی، اجتماعی او اقتصادی لاس وښونو ته هم د پای ټکی ور په برخه کړو.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**اصلی ستونزه**

موږ افغانانو خپل ځان د بهرنی ځنځیرونو سره تړلی ده، هم زموږ رهبران، مربیان، علما او دعوت کوونکی او هم زموږ ولس د نا پوهی له کبله د بهرنیانو په مستقیم او غیر مستقیم ټوګه مرسته او حمایه کوی چی دغه حالت واقعاً درد ناک دی. له یو خوا مو امریکایان د طالب په نوم وژنی د بل خوا مو طالبان د مشرک په نوم ولی دواړه خوا بی وزله اوشاړه شنډه افغانان دی چی مړینه که د افغان سرتیری هم مړی افغان دی او که طالبان هم مړی بیا هم خوار افغانان دی. کله بیا امریکایان مو بمباړد کړی او یا په کور را دننه تلاشی کړی، بیا بخښنه وغواړی! هیڅکله می هم دا تصور نه کاوه چی ګوندی د انسانانو وینه او ژوند به دومره ارزانه شی. هغه افغانان چی په نړی که د بهادری، غیرت، شهامت، میلمستیا، او اخوت مثال وه نن ورته ګوار، جاهل، تروریست او وحشی وایل کیږی. هغه افغانانو چی نور هیوادونو سره بی نظامی مرستی کولی نن وایی چی که امریکایی پوځیان د افغانستان نه ووځی نو موږ د خپلی خاوری نه دفاع نشو کولای! هو ملګرو زموږ اصلی ستونزه د علم، عزت نفس، انسانیت او اسلامیت نشتوالی دی. موږ هم لکه نورو خلکو غوندی بدن، تاریخ او جغرافیه لرو ولی نور نو همت، غیرت، انسانیت او اسلامیت لږشوی دی چی دغه زموږ د بربادی او ناتوانی اصلی بېتیز عامل دی. د یو خوا نه مسلمانان یو او هر مسلمان باید په دی باور ولری چی الله تعالی (ج) رزق ورکونکی دی ولی پرته د دی چی موږ دغه اصل منو بیاهم وایو که امریکایان د افغانستان نه بهر لاړشی موږ به د ولږه نه مړه شو! آیا دغه د افغانانو ننی مسلمانی بی خونده او بی رنګه مسلمانی نه ده؟ دا وضعیت ماته هغه ټوکه را یادوی چی د مسابقی په بهیر کی یو مسلمان ځوان د یو اوچت تعمیر نه غواړی چی ځان لاندی واچوی، لومړی د الله تعالی نه مرسته غواړی او بیا چی ولیدو ته نړی شی بګوان ته وایی چی ته هم پام کوه! هوبهو اهمدغه شان نن د افغان مسلمانانو وضعیت دی یعنی هم یی منم او هم یی نه منم، چی په اسلامی پوهی که دغسی مسلمانانو ته دودی مسلمانان یا کلچرل مسلمانان وایل کیږی چی د ننی اسلامی نړی کمزورتیا اصلی عامل کلچرل مسلمانی ده.

**د حیرانتیا ځای**

د حیرانتیا ځای دی نن په هغه افغانستان کی چی اصلاً تبعیض او تفرقه وجود نه درلوده دغه ناوړه عناصر ته به ظاهری ټوګه باندی وده او انګیزه ورکول کیږی. لکه نن سبا د پوهنتون او دانشګاه په اصطلاح ګانو باندی ګونډئ هیواد ایران په ځانګړی توګه سیاسی کټی اخلی. دری ژبی خصوصاً د شمال ډله نن دا وایی چی پښتانه دوی باندی د ژبی ظلم او د اقلیتونو حق خوړنه کوی او ګوندی پښتانه فاشستان دی. نو راشی چی لږ نظر وکړو چی واقعاً د دری ژبو یا د نورو اقلیتونو حق خوړل شوی ده که دا یوازی د سیاسی ګټو اخستولو لپاره د ایران منظمی دسیسی دی. تاسو ځیر شی افغانستان کی پښتانه اکثریت دی ولی بیا هم د پښتو ژبه لږه کارول کیږی. په حکومتی دفاترو کی عموماً دری ژبه کارول کیږی ولی هیڅ یو پښتون څه نا وایی ولی که یو مکتوب په پښتو صادر شی نو بیا سم قیامت شی! همدغه راز په کابل پوهنتون کی عموماً پښتانه محصلین اکثریت جوړوی ولی که استاد په پښتو درس وکړی بیا پښتون استاد فاشست شی او که په دری درس ورکوی نو بیا هماغه فاشست استاد بیرته لیبرال او پسندیده شی. پښتانه یوازی د پوهنتون په نوم خوشحالیږی ولی دری ژبی حتی یوه کلمه پښتو هم نشی زغملی. ولس مشر په دری خبری کوی د کابینی ډیری غړی په پښتو حتی پوهیږی هم نه. که تاسو خیال شوی وی په کابل کی ټولی لوحی په دری ژبی دی، ټول اداری مکاتبی په افغانستان کی په دری کیږی او حتی درسونه هم په دری ورکول کیږی ولی بیا هم دری ژبی وایی چی موږ سره ظلم روان دی نو تاسو قضاوت وکړی چی ظلم پښتنو سره روان دی که دری ژبو سره؟ که پښتون خپله ژبه هم دفتر کی وایی نو خلک ورته فاشست وایی او که دری ژبی د پښتو یو ټکی هم نغواړی چی وکاروی نو بیا هغو ته مظلومان وایل کیږی. آیا دغه ډبل ستاندارد نه دی؟ آیا د دری ژبو هغه ادعا ګانی چی ګوندی پښتانه فاشستان دی سل په سلو که غلطی نه دی؟ خومره چی زه مطالعه لرم ، مدارک او منطقی دلایل راسره شتی دی، افغانستان په نړی کی یواځنی هیواد دی چی اقلیتو ته د ټلی نه ډیر حقوق ورکړل شوی چی حتی دغه وضعیت د اکثریتو حقوق یی د پښتنی لاندی راوستلی دی!

**د حل لاره څه ده؟**

لکه څنګه چی مخکی مه هم تشریح کړ چی موږ باید لومړی ځان اصلاح کړو یعنی هغه ټول عوامل چی د انسانی او اسلامی ارزښتونو سره په ټکر کی دی پریږدو او خپل کړینی انسانی او اسلامی کړو نو په اتوماتیک ډول نفرت، لریتوب، خوابدی، تبیعض، بی انصافی، به له منځ نه لاړه شی او د یو سوکاله او خپلواکه افغانستان په لور لومړی ګام به واخستل شی. د مثال په ټوګه تر ۱۹۴۷ نه هندوستان هم د افغانستان پر څیر ستونزی درلودی همدغه ډول قومی، اجتماعی، سیاسی او اقتصادی ستونزو سره مخامخ وه ولی د هندوستان ولس هوکړه وکړه چی لومړی خپل ځان اصلاح کړی او بیا به یو منسجمه او یو مټی حرکت ته وده ورکړی چی وشی کړی هم استقلال او هم خودکفایی ور په برخه کړی. هو هندیان وتوانیدل چی د انګریزانو لویه امپراتوری



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ته شکست ورکړی. نو څه فکر کوی چی مونږ افغانانو کی دومره حمت نشته دی؟ بلکل شته دی ولی باید لومړی خپل ځانونه اصلاح کړو او ملی یوالی ته وده ورکړو نو بیا به انشاالله هغه ورځ لری نه ده چی افغانستان به بیا خپلواکه هیواد وی.

مونږ باید قانع وسو یعنی یوازی بهرنی عواملو باندی ټول مسئولیت اچول غلطه ده او باید حد اقل پنځوس پر سلو کی خپل ځان د دغو ستونزه عامل قبول کړو. ځکه چی دغه ټولی ستونزی چی نن ګران هیواد افغانستان کی موجودی دی زمونږ د بی غوری، بی تفاوتی، د وطن سره د مینه کموالی، بی تعلیمی، وطن فروشی او انسانی مسئولیت او مکلفیت نه پیژنګلوی او یا هم سترګی پټونه، د اسلام سپیڅلی دین نه لریتوب او لږ پوهنه او داسی نور عواملو پایلی دی. مادی پرستی، سرابښتوب او حرص د خپل جرمونو نه سترګی پټونه او د نورو خلکو ملامتول او د مسئولیت اخستلو نه ډډه ټول هغه عوامل دی چی د ګران هیواد افغانستان د بربادی باعث وګرزیده. زمونږ د ادارو ټول مسئولین(اجراییه، قضاییه او مقننه) او نور بنسټونه د خپل ایمان، مسلک، دندی، هیواد او حتی د خدای په مقابل کی د مسئولیت اخستلو نه ډډه وکړه او د خپلو مادی خواستونو تر لاسته راوړنی لپاره خپل ټول معنوی، اسلامی او انسانی ارزښتونه یی له لاسه ورکړل او د هر ډول غلطی ګتو نه یی ډډه ونکړه او هر ناوړی او ناروا کارونه یی اجرا کړل چی دغه زما په اند زمونږ د بربادی داخلی عامل دی. خبره به لنډه کړم، که افغانان واقعآ خپل ځانونه اصلاح کړی او انسانی او اسلامی ارزښتو سره سم خپل اعمال عیار کړی نو افغان ولس به وشی کړی چی یو ځلی بیا د خپلواکی سهار تجربه کړی او نړی کی د خپل د لاسه تللی عزت او منزلت بیا لاسته راوړی.

په درناوی



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ